AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۲/۱۳

# د باران ژړا

خلکو ژړل
کلي او کور هم ژړل
د ونو پاڼو په ارامه خپل وير خپله اورېد
څاروي له درده په رمباړو سر وو
چرګانو لوړې کړکړې وهلې
سپيو خپل سر پر لاسو، اېښی و هر خوا يې کتل
او ديوالونه هم حيران ـ حيران وو
مظلوم ګنډلي وه خوله
ظلم روان و او باران ورته ژړا کوله
د کليوالو پر بېوسه ژوندون
ټولو ځاندارو او بېځانو ژړل
کليوال ټول وو رسېدلي د دوزخ څنډې ته
د دوزخ اور په هره سا کې لس ـ شل دېرش خپله لمنه کې مرووړل او خوړل
دې دوزخي موسم کې
ما نه ژړا هېره وه
د چا فرياد مې ناورېد
يوازې غوږ وم د باران ژړا ته
د بارانه په هر يو څاڅکي کې غږونه راتلل
هره څپه کې يې د کلي وير کيسي کېدلې

۲۰۲۰/۱۲/۰۳
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ